# د FENTANYL په اړه پوهاوی

## آیا تاسو پوهیږئ چې؟

په 2023 کال کې د ویرجینیا په دولت مشترکه کې له **2000** څخه ډیر کسان د افیون لرونکی درملو اړوند پیښو له امله مړه شوی وو.

په متحده ایالاتو کې **هره ورځ له 150** څخه زیات کسان د fentanyl درملو په څیر د افیون لرونکی درملو له امله مړه کیږي.

## Fentanyl درمل څه شئ دي؟

Fentanyl خطرناک افیون دی چې ډیری وختونه ستاسو د پوهاوي پرته د نورو درملو سره ګډ شوي وي. حتی په کم مقدار سره هم، Fentanyl درمل وژونکی کیدی شی.

- په ویرجینیا کې، په زیات مقدار سره د Fentanyl درمل کارول، په مړینو کې ترټولو لوی رول لوبونکی دی - ډیری خلک چې په زیات مقدار سره د درملو کارولو له امله مړه شوی وو، ډیری درملو کی Fentanyl شتون درلود.

" د یو کس د بدن اندازی، زغم، او کارونی ته په کتو سره، **"دوه ملی ګرامه"** Fentanyl درمل هم وژونکی کیدی شی. "



نقل او انځور
*د Fentanyl په اړه حقایق*
https://www.dea.gov/resources/ facts-about-fentanyl

## په زیات مقدار سره د Fentanyl درملو د کارولو نښې نښانې او علایم څه دي؟

- لټ یا ناراسته بدن
- یخ، نمجن، یا د جلد رنګ بدلید، په ځانګړی توګه شونډې او نوکان، چې ممکن آبی رنګ وګرځی
- د سترګو کوچنی او تینګ کاتی
- په کنګستوب یا بی خوشی کی خوبجنی حالت
- ورو یا کمزوری تنفس یا په بشپړ ډول تنفس نه لرل؛ خپکی کیدل یا د غرغری اوازونه

## د ټولې کورنی لپاره سرچینې:

بواځې یو ته اړتیا لري په زیات مقدار

د کارونی مخنیوی

د ژوند ژغورولو لپاره روزنه تر لاسه کړئ:سرته را وګرځی!

## که تاسو په زیات مقدار سره د درمل کارولو باندی شک لرئ:

**• ژر تر ژره مرسته ترلاسه کړئ! 911 شمیری سره اړیکه تینګه کړئ!**

- Naloxone/Narcan درمل په ډیری ښوونځیو کې شتون لری، ممکن په ډیر مقدار د کارونی اغیزې بیرته له منځه ویسی، او پدي توګه د یو کس ژوند وژغوری.

## ځرنګ باید خوندی پاتې شو:

- په یاد ولرئ چې کارولو ته یې **نه** ووایاست. حتی که د ملګری لخوا هم درته وراندی شي، دا پدې معنی ندی چې درمل خوندی دی.
- باخبره اوسئ. د fentanyl او د نورو خطرناکو توکو د خطرونو په اړه ځان پوه کړئ.
- د مرستې غوښتنه وکړئ. که چیرته تاسو یا ستاسو ملګری د درمل کارولو ستونزه لرئ، نو د یو باوری بالغ کس، د ښوونځی سلاکار، کوچ، یا د خپل ښوونځی نرس څخه مرسته وغواړئ.